# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد	بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم	از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com	www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۰۷ مارچ ۲۰۱۶

## یو سیاست؛ جنګ یا سوله- د طالب درونډ سیاسي ګوزار

د رسنیو د ځینو کارکوونکو او سیاسي کارپوهانو خپل تحلیل به و چې د لسو طالبانو د نومونو یادونه یې کوله او یا به د حکومت لخوا ځینې نومونه افشاء شوي وو، داخبره نوره ډیرو ته په یقین بدله شوې وه چې د مارچ میاشت په لومړیو دوو اونیو کې به د طالبانو استازي په اسلام اباد کې په څلوراړخیزه د سولې اړوند ناسته کې ګډون کوي.
ډیرې جګپوړي چارواکي او سیاستوال هغه وخت لا ډیر باوري شول چې رسنیو د طالبانو د ډلې دمشر ملااخترمحمد منصور د ګډون خبره او یاداچې اجازه یې کړې چې استازي به یې راتلونکې ۴ اړخیزه ناسته کې ګډون کوي.
فکر کیږي چې طالبانو نه غوښتل پدې اړوند څه ووايي ځکه هغوی سره به د چین او پاکستان پټې لیدنې شوې وي، چین او پاکستان پردې باوري وو چې طالبان په یادو ناستو کې ګډون نه کوي، ولې چې کله پاکستان لوبه دومره ګرمه کړه چې خیالي او تصوري د سولې غولیدونکې ناستې او د طالبانو ګډون یې پکې د خلکو په ذهن کې په یقین بدل کړل، طالبان به مجبوره شوي وي چې دغه ډول اعلامیه خپره کړي، متل دی وایي چې سل د زرګر یو د اهنګر.

### درونډ سیاسي ګوزار

طالبانو درونډ سیاسي ګوزار هم دپاکستان پر حکومت او هم پر کابل وکړ، نن چې د افغان پارلمان د پرانستلو ورځ ده، ویل کیږي ولسمشر غني به ورته وینا کوي، د غني یواځنې دروغجنه لاسته راوړنه د ۴ اړخیزو ناستو یادونه او دا چې طالبان به پکې ګډون کوي. مګر طالبانو په ډیر حساس وخت کې اعلامیه خپره کړه او خپل ګډون یې رد کړ، بلکې خپلې غوښتنې یې بیا ځل تکرار کړې چې تر کومه بهرني پوځیان په هیواد کې وي، ددوی نومونه تورلسټ کې او بندیان شکنجه کیږي ، د کابل چاروااکو سره خبرو ته چمتو نه دي.
کابل او اسلام اباد پر دې ښه پوهیدل چې طالبان په دغسې ناستو کې ګډون نه کوي، داچې ویل کې کابل به د لسو مهمو طالبانو نومونه اسلام اباد ته ورکړي او په ناسته کې یې د طالبانو د مشرانو د ګډون غوښتنه کړې وي، فکر کیږي چې دوی هغه ډول غوښتنه کړې چې ممکن به نه وي، معنی او مفهوم به یې داوي چې په دې کار سره ممکن کار ناممکن شي، چې په انګریزي کې د Passable نه Impassable ورته وایي.

اوس به کابل حکومت د سولې مذاکراتو کې پړه پر طالبانو اچوي، وايي به چې موږ مذاکراتو ته حاضرو خو طالبان سوله نه غواړي، حال داچې همدې کار ته زمينه خپله حکومت برابره کړه، طالب هر ځل ويلي چې د پاکستان او يا بل بهرني فشار لاندې خبرو ته نه حاضريږي، او د بهرني فشار په نتيجه کې د سولې مذاکرات افغاني پايلې نه لري.

مخکې له دې چې شکېل اړخونه مخامخ مذاکراتو ته ننوځي، باور جوړلو، لومړنيو خبرو او اجنډا باندی بايد کار وشي، ولې افغان حکومت پرته له زينو څخه بام ته ټوپ وهي.

اصلي لوبغاړی پاکستان دی وخت به پريکړه کوي، پاکستان به د سولې په نوم امتياز اخلي، کله چې امتياز ترلاسه کړي ، اوس يې هم امتياز اخيستی دي، بيا به د خبرو د تعجيل او ځنډ ورانديز کوي.

## د سولې خبرې او د پاکستان امتياز اخيستل

پاکستان هر کال د امريکا سره ستراتيژيک مذاکرات لري، د اځل د ايف - ۱۶ جيټ الوتکو غوښتنه د پاکستان لخوا، د پاکستان د اټومي وسلو کنټرول د امريکا لخوا د مذاکراتو په اجنډاکې وو.

دهمدې له پاره چې پاکستان د امريکا د کانګرس د غړو انديښنې ليرې کړي، او له امريکا څخه جيټ الوتکي ترلاسه کړي، امتياز واخلي، د ۴ اړخيزو ناستو تر نامه د سولې غولونکې لوبه يې ګرمه ساتلې وه.

افغان حکومت بيا په دې کار سره د خلکو توجه اړول غواړي، تر څو خپلې ناکامی له ولس او سياستوالو څخه پټې کړي.

غني غواړي چې د کرزي لوبه تکرار وساتي، داچې پر طالب د شمال ټلوالې کسان وبيروي، همداسې هم ده، شمالي ټلواله فکر کوي چې غني له طالبانو سره پټې اړيکې لري او غواړي چې طالبان حکومت ته راولي.

د امريکا اړيکې له شمال ټلوالې سره خرابې ښکاري، ممکن افغان حکومت کې ژور بدلون او تغييرات راشي، دا امکان شته چې ۴ اړخيزه ناستې د امريکا، افغان حکومت او پاکستان ګډه لوبه وي.

## د سرتاج عزيز څرګندونې او پايلې

نږدې تير ۱۵ کلونه پر پاکستان تور پوري وو چې د طالبانو مرسته کوي، او طالبانو ته يې پټنځايونه برابر کړي دي، هغه څه چې پاکستان نه منل، او طالبانو بيا هر وخت ښکاره کوله چې دوی مستقيل دي، د پاکستان تر فشار او کنټرول لاندې نه دي، ځکه خو يې په قطر کې د سولې مذاکراتو له پاره ځانګړي دفتر پرانيست، هغه دفتر چې پاکستان او افغانستان د سعودي په ګډون ورسره سخت مخالفت ښکاره کړ.

سرتاج عزيز په امريکا کې وويل چې طالبان په پاکستان کې دي، دهغوی کورنی او مشران هلته ميشت دي، دوی ته پاکستان د درملو او روغتونو اسانتياوې برابرې کړي دي، ددوی بچيانو ته يې د ښوونې او روزنې سهولت برابر کړی او ددوی د کورنيو حفاظت کوي.

فکر کيږي چې د نورو لاملونو ترڅنګ د سرتاج عزيز څرګندونو به طالبان اړ کړي وي چې په ۴ اړخيزو ناستو کې د ګډون نه کولو اړوند اعلاميه رسما خپره کړي، هسې هم طالبانو په تيرو څلورو ناستو کې ګډون ونه کړ، داځل هم تمه نه وه چې هغوی به ګډون وکړي، مګر داچې د طالب د قربانيو سودا عملا پاکستان دتير جهاد په څير روانه کړې وه او له امريکا څخه د امتياز ترلاسه کولو له پاره تر پولو واوښت، طالبانو سخت سياسي ګوزار ورکړ، اوس نو پاکستان ته نور د پټې سودا چانس پاتې نه دی.

پاکستان لوی زیان هم وکړ، طالب سره به یې هم ستونزه په همدې حالت کې پاتې نه شي، اړیکې به یې ترینګلې شي، مګر نړیوال به اوس له پاکستان څخه د تیرو ۱۵ کلونو حساب غواړي، افغان حکومت به تر فشار لاندې وي چې د نړیوالو په مرسته له پاکستان سره په تیرو ۱۵ کلونو کې په افغانستان کې د لاسوهنې او مداخلې حساب وکړي، هغه چې خپله سرتاج عزیز یې وایي، دابېله خبره ده چې پر طالبانو پاکستان کنټرول لري یانه؟ که یې لرلای نو طالبانو به د اعلامیې د خپرولو جرائت نه وای کړی، مګر پاکستان به په نړیواله او سیمیزه کچه تر سختو نیوکو لاندې راشي، هند ته ښه ثبوت خپله سرتاج عزیز په لاس ورکړ.

پاکستان به طالبانو ته په غوسه وي، خو طالبان به وایي چې نه باید پاکستان د خپل ژوندي پاتې کیدو له پاره د افغانانو قرباني خرڅې او پر طالبانو معامله وکړي.

کیدای شي چې د سرتاج عزیز څرګندونې د پاکستان د ملکي او پوځي حکومت ترمنځ ستونزې لازیاتې کړي، هغه چې وار له مخه د افغانستان مسئلې اړوند اوسمهال کې شتون لري.

## سوله په عمل کې

د سولې اړوند په کار ده چې خبرې او عمل پرتله شي، ۱۴ کاله موږ د سولې خبرې اورو، ولې په عمل کې هیڅ نه دي شوي. نږدې ۱۸ میاشتې کیږي چې د سولې تکراري او مهمې خبرې د ولسمشر غني څخه اورو، دومره زیاتې چې باور او یقین کیږي چې سولې ته ژمن او سوله راځي، مګر که عمل ته متوجه شو، نه داچې پرمختګ شته، بلکې له صفر سلنې څخه هم کښته پرمختګ دی، شاتګ دی، شپني عملیات، امریکا سره تړون، پاکستان سره ځنډیدلی امنیتي تړون، بهرني پوځیان بیرته راتلل او ولایتونو ته د جګړې له پاره تلل، تهدید او د طالب ځپلو خبرې، له امریکا او روسیې څخه وسلې اخیستل، دا ټول د سولې ضد کارونه دي چې غني وکړل.

غني ارګ ته له ننوتلو مخکې طالبانو سره ناستې کړي وې ، نیمه تفاهمات شوی وو، طالب غوښتنې پوره کړي، همدې قطر کې ناستو خلکو همدا کار وکړ، چې اوسمهال غني وایي صلاحیت به څوک لري؟

کابل څخه غوښتنه دا وه چې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه شي ، خپلواکه افغان شموله اداره باندې به خبرې کیږي، لنډمهاله اداره به جوړیږي، همدا لنډمهاله اداره به د راتلونکې منتخب او مشروع حکومت لپاره کار کوي، غني سر خوځولی وو، مګر له خپلو ژمنو په شا شو، اوس هم وخت شته که د بهرنیانو د وتلو پر سر او دلنډ مهاله حکومت اړوند سولې ته د رسیدو مذاکرات وشي.

غني چې ارګ ته ننوتی بیا هم له طالبانو سره مختلفې ناستې وشوې، کومې ژمنې او خبرې چې شوي کابل بدلون ورکړي.

ستونزه داده چې کابل اداره کې د موقف توحید نشته، ولسمشر غني د سولې خپل تعریف لري، عبدالله ، دوستم او محقق د خپلو ګټو خوندي ساتلو سره سوله غواړي، احمد ضیاء مسعود، د بهرنیو چارو وزیر او د بلخ سرپرست والي هم د ملیشو جوړولو ګواښونه کوي.

د حکومت بیلابیلو ډلو ټپلو او چارواکو ته یو سیاست په کار دی جنګ یا سوله؟

د کابل دریځ ډیر ژر ژر بدلون کوي، کله پاکستان سره ډیر ژور مخکې ولاړشي، کله هند سره او کله هم چین سره، داسې مختلف الاضلاع مثلث جوړول غواړي چې دا ضلعې یوبل نه قطع کوي، د هند او پاکستان اړیکې یوبل سره ډیرې ترینګلې دي، افغان حکومت باید په منځنې حد کې اړیکې له دواړو هیوادو سره وساتی، دا ډول د چین او هند اړیکې ورته ډول دي.

تر ډیره ښکاري چې د سولې اړوند د طالب موقف واحد دی ، هغوی په دوحه کې د پګواش په لومړئ او دویمه ناسته کې د سولې اړوند صراحت او خپله تګلاره لږ تر لږه روښانه کړي

## پاکستان به له طالب سره ټکر ته زړه ښه کړي

پاکستان طالب سره ټکر ته نه ځې مجبوریتونه لري، طالب تر حکومت قوي او د هیواد زیاته سیمه یې تر کنټرول لاندې ده، د هند او چین سره اړیکې یې داسې نه دي چې پاکستان ورڅخه ویره ولري، دا ډول ایران سره هم طالب په اړیکو کې تعادل ساتلی دی، مهمه داده چې افغان طالب د پاکستان په ولس کې نفوذ لري، د پاکستان په مذهبي ګوندونو او مذهبي څېرو کې نفوذ لري، او د ډیورنډ دواړو غاړو ته پراخ قومي نفوذ لري.

یو تن چې د افغان حکومت امنیت شورا کې اوسمهال کار کوي، په ټلویزون کې له ګردي میز خلاصیدو وروسته وویل چې کله پاکستان د طالبانو د واکمنۍ پر مهال پر افغانستان اوره بند کړل، په تورخم او چمن یې اجازه نه ورکوله، طالبانو پاکستان ته احوال ورکړ چې لاره خلاصوي، اوره راپریږدي او که له هند سره د اوړو اخیستلو تړون وکړي، پاکستاني چارواکو سخت تکان وخوړ.

پاکستان چې د طالب په نوم له نړیوالو څخه ګټې ترلاسه کوي، او له طالب سره د فاصلې نیولو اندیښنې او زیانونه هم ورته معلوم دي، په دې هم پوه دی چې ایران او روسیه کمین کې ناست دي، طالب له دواړو هیوادونو سره اړیکې لري، نو پاکستان به اوس مهال پر طالب دداسې فشار راوستلو جوګه نه وي کوم چې افغان حکومت او یا نور یې فکر کوي.

## د افغان جنګ له امله پاکستاني جنرالان میلونران شول

د اسلامي حزب (ارغندیوال) مشر او د حراست او ثبات شورا غړی عبدالهادي ارغندیوال وایي چې پاکستاني جنرالان د افغانستان د جنګ له برکته میلونران شول، ګټې یې د افغانستان په جنګ کې دي، زموږ جګړه ددوی له پاره تجارت دی او د افغانستان جنګ له امله پاکستان ستراتیژیک موقعیت ترلاسه کړی دی.

ارغندیوال وایي چې سوله هرڅوک غواړي مګر مهمه داده چې د جنګ عوامل و پیژندل شي، د سولې په اوسنۍ تګلاره باندې باور نه لرم، د جنګ دوام موږ غلامان، کمزوري او احتیاج کوي.په څلوراړخیزو ناستو باوري نه یم، بیخي مایوس هم نه یم، د داسې افغاني مذاکراتو اړتیا ده چې نړلوال ناظرین پکې شتون ولري ، که حکومت ناکامه کیږي نو داسې موقت حکومت چې ښکېلو اړخونو ته قابل قبول وي او سمې برنامې ولري مناسب حل دی.

د افغان حکومت مخالف اپوزیسون مشر ډاکټر انوارالحق احدي وایي چې حکومت عوام فریبي کوي، خبرې ډیرې کوي چې سوله راځي مګر اصل کې هیڅ هم نشته، که طالبان په څلوراړخیزو ناستو کې حاضرشي نتیجه ورکوي او که حاضر نه شي نتیجه نه ورکوي، داچې امریکا به په پاکستان فشار راوړي، چې طالبان خبرو ته کینوي، باوري نه یم چې پاکستان به داکار وکړي.

داچې د هیواد په شمال کې خلک جګړې ته بلل کیږي، حکومت د سولې روښانه طرحه نه لري، دخلکو دفاع د حکومت دنده ده، پوځ شته، پیسې شته مګر دطالب مقابل کې مقاومت نه شي کولای.

احدي وایي چې طالب په نظامي بن بست باوري نه دی، که راتلونکی پسرلی کې حکومت دفاع وکړي، ممکن بیا طالب له افغان حکومت سره مخامخ مذاکراتو ته حاضر شي.

ښاغلي احدي وويل چې طالبانو سره يې ليدلي دي، هغوی په لنډمهاله حکومت باندي راضي کيږي مګر په حکومت کې ګډون نه کوي، که داسي سوله او حکومت راځي چې طالب هم پکې وي دا ښه ده، او که نه وي نو بيا موږ دري نور کلونه دغه ناکام حکومت ته انتظار نه شو کولای، انتخابات غواړو.

**حل لاره**

په ډير لنډ ډول سره وايو چې خپله افغانان د سولي پروسه کې وړ او مناسب کار کولای شي، بهرنيان او ګاونډيان يې هغه ډول نه شي کولای کوم چې ګردو افغانانو او يا ښکيلو اړخو ته د منلو وړ وي، د افغانانو ګاونډي او بهرني خواخوږي به وي خو متل دي وايي پيشو د خدای له پاره موږک نه نيسي.

دکابل اداري د موقف يووالي اړين دی ، د سولي مذاکراتو او مخامخ خبرو له پاره بيطرفه کسان او دريمګړی ګروپ جوړول او هغوی ته واک ورکول، مقابل لوري نه هم د واک غوښتنه، پر لنډمهاله اداره باندي خبري او هوکړه، داسي اداره چې د بل راتلونکي مشروع حکومت لپاره کار ورکړي.

په سوله کولو کې بايد ملي ارزښتونه خوندي او وساتل شي، داسي سوله چې ملي ارزښتونه پکې متضرر کيږي د بلي جګړي پيلامه به وي.

د بهرنيانو شتون د سولي اړوند لوی خنډ دی، د طالبانو لخوا د بهرنيانود وتلو مهالويش اعلان او منل، تنازل او ښه فرصت دی، نړيوال بايد امريکا قانع کړي چې د افغانستان جګړې څخه په بامسؤليته ډول سره ووځي، نه داچې د نويمو کلونو ناکامه تجربه تکرار شي، چې روس او امريکا د افغانانو جګړه بې مهاره پريښوده، امريکا او روسانو دواړو له مسؤليت څخه پښې سپکې کړي، چې دادی لا هم جګړه روانه ده، که داځل هم امريکا مسؤليت نه مني، نو ستونزمنه به وي چې ژر دي په افغانستان کې جګړه ودريږي او سوله راشي.

د غني له پاره تر ټولو مهمه لاسته راوړنه سوله ده، که چانس له لاسه ورکړي، تاريخ به دده ناکامه دوره او ګډ حکومت په ډيرو بدو تورو کرښتو وليکي، او طالب ته په کار ده چې د سولي هر ډول هڅې وکړي، که جګړه دوام کوي، سوله نه راځي، اوطالب د سولي ابتکار په خپل لاس کې د ولس سره په مشوره نه اخلي بيا به ګرانه وي چې د راتلونکي جګړې پړه له غاړي واړوي، او ځان ته برائت ورکړي. په افغان سوله کې د افغان ولس، امريکايي ولس، اروپايي ولس، طالب، افغان حکومت او ګاونډيو ګټه او خير دی، په کار ده چې افغان ولس او په کور ناست سياستوال په طالب، حکومت او نړيوالو مدني فشار راوړي چې سولي ته په عمل کې حاضر شي.